بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیم

د مولانا سعید افغاني د سولې او تفاهم،نشراتي ارګان

www.said-afghani.org

آزاده، بېلنیزه ،علمي ، فرهنګي و نشراتي ارګان






د مولانا سعید افغاني :آزاده ، تولنیزه،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!




# نجم الرحمن « مواج »

د نشر نیټه : 17 مارچ 2019 م

# ایښئ

سر مې د درانه خوب په وزر ایښئ
خیال مې پلوشو ته د سهر ایښئ
نغاړمه خیالونه مې رنګین رنګین
کومې نه مې مینې ته چې سر ایښئ
پټ شوم چې له ځان سره جرګه شومه
خلاص مې هر مین ته د زړه ور ایښئ
نه شوم ورکیدئ دتاریخ دوړوکی
ندد مې تاریخي چې غر په غر ایښئ
ځینې تود نغرې ته اتنونه کړی
مایې په تبې د دئ خپل ځیګر ایښئ
د المبې به تپې شی ایرې به شي
تل د وخت لمبو کی مې ګودر ایښئ
واوروم که ژوند له پولې مر نه یم
ما مې مبتدا پسې خبر ایښئ
کځ د ژوند بهیر مې هضموئ نشي
ما مواج یې غاړوکی اثر ایښئ

***

نجم الرحمن « مواج »


بازگشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org